پوهنمل حاجي محمد نوزادي

06 مې 2015

# د افغانستان جنګي جغرافیه ، نن او سبا

<u>لومړی برخه</u>

**لیندہ که هر لور ته کړی سمه خو هدف یې زه یم**

**غشی که هر طرف ته خلاص کړي نو تر ما به راځي**

( درویش دُرانی )

د هیواد امن او ډاډمن ټیکاو ، دا هغه ملهم دي چې نه شتون یې د هیواد زخمونه تر ناسوره رسولي او هیوادوال یې له هر څه نه بې بهرې کړی دی .

دا لیکنه هغه څه نه دی چې د لومړي ځل لپاره یې د لاری ددغه روان ناورین څخه د وتلو په اړه خبره را پورته کیږی ، خو توپیر یې پدې کې وینم چې دلته زه غواړم پر دې خبره باندې لږ تم شم چې ایا د هیواد جنګي جغرافیه د بدلون په حال ده ، که څنګه . غواړم پر دې خبره هم و ږغیږم چې تر سولې او ټیکاو پورې د رسیدو په بهیر کې د سیاسي ګوندونو رول څه دی . پدې لیکنه کې به ددغو دوو ټکیو په هکله خپل نظر د لوستونکو سره شریک کړم .

د دایمي سولی د تر لاسه کولو پخاطر تر اوسه پورې د هیواد په دننه او د باندې کې په بیلابیلو کچو راشه درشه او ناستې پاستې شویدي . بنه بیلګه یې په قطر کې دا د کنفرانس پنامه وروستنی ( ۲۰۱۵ کال د مې میاشتي دویمه او دریمه ) ده چې د افغان حکومت ، طالبانو او اسلامي ګوند د استازو په ګډون تر سره شوه .

ددې ټولو هلوځلو سره سره دا پوښتنه په حق سره را پورته کیږي چې د افغانانو پر غمځپلي خاوره نو بیا ولې د سولې عنقا سیوری نه غوړوي . لکه څنګه چې ټپل سوی جنګ زموږ په هیواد کی خپلې ریښې او سرچینې لري ، همدارنګه سولې ته نه لاسرسی هم خپل علتونه لري . پخپله اوسنی جنګي غمیزه د یو لړ علتونو معلول ده . زما په آند تر اوسه پورې چې لوړو یاد شوو هلوځلو اړینه پایله نده درلودلی ، بنایي دلیل به یې دا وي چې نوموړي هلې ځلې یوازی د معلول پر شاوخوا را ګرځې ، علت څنګ ته پاته او آن داچې کله ناکله بیخي له یاده وتلی وي . خو لدې نه پرته یو شمیر نور لاملونه هم شته چې باید خبرې پرې وشي .

پدې کې هیڅ شک نسته چې غمیزه د ۱۳۵۸ کال د مرغومي له شپږمې نیټې څخه د کرملین د لنډه غرو سیاسي مشرانو په ناروا پریکړه را پیل سوه . دا کار د امریکا او لویدیزوالو د پاره بنه بهانه و ګرځیده څو په کرملین کې د واکمني ایدیالوژئ د ټکولو پخاطر په هر مشروع او نامشروع عمل لاس پورې کړي . ددې ایدیالوژئ د ځپلو په موخه د ( بنسټ پالني پروژه ) تر ټولو اکسیره او اسانه لاره وګڼل شوه چې د « سي اي یي » په مشوره او مالي لګښت د « اي ایس اي » په کړغیرنو لاسونو سره په بریالي توګه مخته ته ولاړه .

لکه څنګه مې د جرمني هیواد د کولن ښار غونډی ته پخپله بیانیه کي یادوونه کړې وه ، که غمیزه کرملین پیل کړه خو اوسنی دوام یې د سیمي او نړی د ځاګرو کړیو په لاس مخته ځي . پدې توګه لکه څنګه چې هره پیښه او پدیده ځانته خارجي او داخلي اړخونه لری ، همدارنګه د سولي تر ناوکی پورې د رسیدلو پخاطر هم باید ددغو دوو اړخونو



افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنيزې بنې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له راالیرلو مخکې په خیر و لولئ

په منځ کي لاره ولټوله سي او پر ستونزي باندی د لاسبری په موخه اړين توکی په ګوته سی . په کور دننه اړخ کی ددغه ډول لاسبريو پخاطر کيدلای سي د اړينو توکو په ډول ـــ دولتي اداره ، ملي بنسټونه ، سياسی ګوندونه ، قومي مشران او نوري بيلابيلي اغيزلرونکي کړی يادي کړو چي د پام وړ رول لري . په بهرني اړخ کي ګاونډي هيوادونه ، د سيمي هيوادونه او د سيمي څخه د باندي اغيزلرونکي هيوادونه لکه امريکا ، اروپايي اتحاديه او انډيوالان يې پدې پروسه کي د ډير اغيز درلودونکي دي .

ښکاره او تر لمر سپينه خبره ده چي پدې پروسه کي د يوه اړخ رول هم له پامه غورځولای نه سو . که څه هم د شرايطو په نظر کی نيولو سره کله د يوه اړخ رول او کله د بل اړخ دا زيات وی خو په ټوليز ډول د منطق او ډيالکتيک حکم دادی چی داخلي تضادونه د هری پديدې په طبعي پرمختګ کي پريکنده رول لوبوي او دا هغه څه دی چی بايد پدغه پروسه کي هم ورته په ټينګه پام واړول سي .

که د رواني جګړې په اړه و ږغيږو ، زه پخپله د هغو شنونکو سره همږغی نه يم چي پدې وروستيو کي داسی څرګندوني کوي چي ګويا په افغانستان کي د جنګ جغرافيه د بدلون په حالت کي ده . دلته د جنګي جغرافيې د بدلون مانا داده چی پسله دې نه به د هيواد جنوبي سيمي چي دا اوږده کلونه د اور په لمبو کي سوځيدلي ، ارامي پاته شی او شمالي سيمي به چي نسبتاً ارامي وی ، نور به د اور په لمبو کي سوځي . زما په آند د جنګ جغرافيه بدلون نه مومي بلکه د جنګ جبهه غځيږی او د جنوبي سيمو برسيره د شمالی برخو په لور پراختيا مومي . د بيلګی په توګه :

د هيواد په شمال په ځانګړې توګه بدخشان کي د داعش ډوله کسانو پلاس د شلو تنو سربازانو څخه د سرونو غوڅول او همدارنګه د هيواد په جنوب ختيز ننګرهار کي د وروستی ځانمرګي بريد غمجني پيښي چي نژدي د څلويښتو بيګناه وګړو ژوند يې واخيست او له سلو څخه يې زيات کسان ژوبل کړه ، دا و ښودل چي د اور لمبې په جنوب کی د پخوا پشان دوام لري او و شمال ته يې هم لمن په پراخيدو ده ، خو يوازي د پيښو سناريو او تمثيل کوونکی اکټران بدلون مومي .

ټول افغانستان زموږ ګډ وطن دي ، هره سيمه يې زموږ ګډ کور او هر قوم يې زموږ ورور دی . که يوه واړه کلي ته هم د جنګ اور رسيږي ، دا زموږ د تن غوښي سوځوي او هيڅ باوجدانه درديدلی هيوادوال بايد پرې خوشاله نشي . مګر دا کار ښايي داسی اُميدونه را ژوندي کړي چي د سولي بهير به تر يوه بريده چټک شي . داځکه چي تر اوسه پوري يو شمير داسي اغيزمني کړيو شتون درلود چي د جنګ د اور لوخړي يې تر سږمو رسيدلي نه وې ، ځکه يې نو د سولي په لاره کي خنډونه اچول ، اوبه يې خړولي او کبان يې نيول . هيله ده ددغو ناروغو کسانو عقل به هم اوس سرته راشي او پدې به پوه شی چي دوږخ د مومن د پاره د اوسيدلو ځای ندی . پدې توګه کيدلای شي د سولي پخاطر ګډی هلي ځلي پيل او د بري تر پولي ورسيږي .

لدې نه پرته ، د افغانستان په ځينو سيمو کي د مخالفو وسله والو په وړاندي د داعشی جنګياليو د خوزښتونو ګنګوسي ، په پاکستان کي د پيښو وروستی پرمختګ او د افغانستان په هکله يې د ستراتيژيک عمق په اړه د بدلون نښي نښاني ، د افغانستان په جيوپوليتيک موقعيت کي د جيو ايکونوميک او جيوترانزيت پديدو را برجسته کيدل ، د سيمي او لوديز تر منځ په اقتصادي او نظامي معادله کي د انډول نسبي بدلون ، د سولي په پروسه کي د چين شکيلتيا ، او همدارنګه په نړی کي د پيښو ننني پرمختګونه دا ټول هغه څه دي چي زما په آند د سولي ريښو ته اوبه ورکولای سي . له همدې کبله اوسني حالات ماته له بل هر وخت نه زيات د سولي او امن په ګټه برييښي .

د يادولو وړ ده چي په افغانستان کي د پاکستان د ستراتيژيک عمق په اړه د بدلون نښاني پدې مانا ندی چي ګويا پاکستان نور دلته د خپل ستراتيژيک عمق د خيالونو څخه لاس په سر شويدی . پاکستان به هيڅکله هم دا کار و نکړي ، خو يوازی دا ويلای شو چی ددغه ستراتيژيک عمق په اړه يي په موخو کي بدلون راتلاي شی . داځکه چي د سيمي


افغان جرمن آنلاين په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادونه: دليکني د ليکنيزې بنې پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له راليږلو مخکي په خير و لولئ

په اړیکو کي د افغانستان د جیوپولیتیک موقعیت تر څنګ د جیو ایکونومیک او جیوترانزیټ پدیدو برجسته والي د پخوا په پرتله ورځ تر بلي د پام وړ رول تر لاسه کوی او پاکستان نه غواړي د اغیزمن ګاونډي په توګه ددې مثبتي پروسي له ګټي نه بې برخي پاته شي .

بله خبره چي پاکستان یې و دي ته اړ ایستلی ځو یو شمیر افغاني طالبان د سولي خبرو ته و هڅوي ، هغه د پاکستان دا لاندي موخي دي :

الف ـ پاکستان غواړي پر ځان باندي هغه نړیوال فشار لږ کم کړي چي توله نړی یې د تروریزم د ملاتړ پنامه بولي او آن داچی په تور لست کي ددې هیواد د شاملولو ګنګوسي هم کله ناکله منځته راغلي دي .

ب ـ پاکستان پدې ښه پوهیږي چي د داعش را پیدا کیدل او غښتلتیا د طالبانو د کمزوری لامل ګرځیدلای شي او داعش بیا د پاکستان زیرنده ندی . ځکه پاکستاني چاروا‌کي پدې اند دي چي د یوې خوا به په افغانستان کي د پخوا پشان د جنګ اور دوام و مومي او د بلي خوا به نړیوال ددې جنګ پړه پر پاکستان نه اچوي .

ج ـ داچي په داعش والو جنګیالیو کي د افغانستان د شمالي ګاونډیانو لکه ازبکستان او تاجکستان ، چیچنیا او عربو ونډه غوښینه ده او جنګي جغرافیه د شمال لورته هم غځیدلي ده ، ځکه نو پاکستان فکر کوي چي له همدې کبله به دوی د یوه پلوه د نړیوال فشار نه خوندي پاته شی او د بل پلو نه به د جنګ د لمبو له تاو څخه تر ټاکلي کچي په امان وي . مګر پاکساني داړه مار چاروا‌کي باید پدې پوه شي لکه څنګه چي عربي القاعده ورته د لستوني مار شو ، همدارنګه به داعش هم نه یوازي تر شمالي وزیرستانه ځان ورسوي بلکه په پنجاب او سیند کي به ځالي جوړ کړي ، د لنګي غوا پر ځای به ورته لنګي بلاوی وګرځي .

کوهی مه کینه د بل سری په لار کي

کنه ستا به د کوهي په غاړه لار شي

( رحمان بابا )

د لومړی برخي پای . نور بیا

---


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکني د لیکنیزي بڼي پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکي په ځیر و لولئ